# نجیبه

ستاپه میرانه اوغیرت نجیبه

ویاړي اوس ټول افغان ملت نجیبه

لوی اووارہ دی په نوم فخرکوي

ویاړي ټول ستاپه شهامت نجیبه

ځوانان یی هروخت په شعرونوستایي

ستاله ویاړیک،دروندشخصیت نجیبه

ته دوطن په سر،له سره تیرشوی

شه مبارک دی شهادت نجیبه

ستاشهادت،ملت له خوبه ویښ کړ

پوه شودهردښمن په نیت نجیبه

ستاوړاندوینی ټول ملت یادوي

شوی ستا خبری،حقیقت نجیبه

دملت لوی اووارہ،سم پوهیږي

اوس دپنجاب په شیطانت نجیبه

اوس ستاتصویر،دهرافغان کره شته

دومره دی ډیرستامحبوبیت نجیبه

ستاخړمزارته،ولسونه درځي

دعاکوي ستاپه زیارت نجیبه

دمیلن نوم اوس تول جهان پیژني

ستادزیارت له برکت نجیبه

مونږستاپه لاره،ستاپه پله روان یو

یی سترسمبول مودوحدت نجیبه

یاخپل وطن اویاکفن شعاردی

په یادساتولکه وصیت نجیبه

په هرقیام کی دادعاکوومونږ

چی په نصیب دی شه جنت نجیبه

**الحاج الهام الدین قیام**